| | |
|---|---|
| توضیحات | زده کوونکي به خپل د الفباء کتاب جوړ کړي، د هغه په کټګوریو او د انځورونو په رسمولو باندې به فکر وکړي، او همدارنګه به ډیاګرافونه وسیړي. |
| مخکینه پوښتنه | آیا تاسو کولای شئ خپل د الفباء کتاب جوړ کړئ؟ |
| ټول د اړتیا وخت | په دوه اونیو کې ۱۰ ساعته |
| د اړتیا توکي | کتابچه، پنسلونه، تخته پاک او رنګونه |
| د زده کړې پایله | 1. د کتابونو په واسطه د کیسو، کلمو، حروفو او غږونو ترمنځ اړیکي جوړې کړئ. او د خبرو اترو له لارې د چاپ او مفهوم اخیستلو مناسب معلومات شریک کړئ.<br>2. په سمه توګه د معلوماتو اړیکي جوړول<br>3. د چاپ او انځورونو پیژندل او د دواړو تر منځ توپیر کول<br>4. لوستل او په سمه توګه غږونو او حروفو ته ځواب ویل<br>5. د لوستلو مناسبې ستراتیژیانې جوړول<br>6. د عاجلو لیکوالی چار چلند ښودل<br>7. په مناسبه توګه د لیکل شوو معلوماتو اړیکي جوړول<br>8. په مناسبه توګه د لیکل شوي کار نظم، املاء او لیکنښي کارول<br>9. په مناسبه توګه د لیکوالی د ستراتیژیانو جوړول |


## لومړی ورځ

نن ورځ به تاسو خپل ځوانو خویندو او ورونو ته خپل د الفباء کتاب زده کړې لپاره جوړ یا ډیزاین کړئ!

| وړاندیز شوی وخت | فعالیت او توضیحات |
|---|---|
| ۵ دقیقې | که چیرته کوم د الفباء کتاب ته لاسرسی لرئ، د مؤخذ یا حوالې لپاره ترې کار واخلئ.<br><br>هر حرف به په لوی او کوچني ډول ولیکل شي او ورسره به دوه شکلونو رسم شي. د بیلګې په توګه: (م) منه او (پ) پیشو. |



EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/pVXs3vQEufuzSShs7

| | |
|---|---|
| |  |
| ۱۰ دقیقې | • هر حرف لپاره په دوه کټګوریو باندې فکر وکړئ، د بېلګې په توګه د حیواناتو او خوړو نمونه. یا د هغوی په بدیل باندې چې ساه لرونکي او ساه نه لرونکي شیان دي، فکر وکړئ. |
| ۱۰ دقیقې | • د ساینس پراختیا:<br>ساه لرونکي او ساه نه لرونکي شیان په الف ب ت کتاب کې د ساه لرونکي او د ساه نه لرونکي په کارولو سره په نښه کړئ. هر انځور یا رسم سره د ساه لرونکي او ساه نه لرونکي کلمې ولیکئ. د بیلګې په توګه: یو بوټی، میوه، ګل، حیوان، مرغې. کب یا انسان ساه لرونکی دی – جامې، بالښت، میز، کتاب ساه نه لرونکي شیان دي. هر څه چې ساه واخلي، خوړو ته اړتیا ولري (خواړه او اوبه)، نسل و زیږوي او زخمي شي، دغه شیان ساه لرونکي بلل کیږي. دا ولیکئ یا یې تشریح کړئ چې کوم څه یو جسم ساه لرونکی یا ساه نه لرونکی جوړوي. |
| ۴۰ دقیقې | • لومړۍ ورځ په څلورو تورو یا حروفو (الف، ب، ت او ث) باندې پیل کړئ |
| ۱۰ دقیقې | • عددي پراختیا: (شمیرې او الجبر) هره پاڼه په یوې شمیرې سره په نښه کړئ. شمیرې په ترتیب سره ولیکئ. مخکیني زده کوونکي کولای شي چې جفت او تاق شمیرې په بیلابیلو رنګونو سره ورنګوي.<br>• لارښود: والدین کولای شي له زده کوونکو سره د خطونو په رسمولو سره له هغوی سره مرسته وکړي تر څو هغوی کلمې او توري ولیکي او زده کوونکي هغه رسم کړي. مخکیني زده کوونکي دې خپلې کلمې یا توري دې املاء کړي.<br>• لارښود: د انځورونو د رسمولو پر ځای دې هغه پرې او سریښ کړي<br>• دغه ۵ هیجائي توري په بیلابیلو رنګونو سره ولیکئ تر څو یې وپیژنئ. (ا، ها، ع، ح، غ، خ) |

## له دویمې تر پنځمې ورځې پورې (۲-۵)

له ۲ تر ۵ ورځې پورې به تاسو په نوو الفباوو باندې کار وکړئ.

| وړاندیز شوی وخت | فعالیت او توضیحات |
|---|---|
| | |

EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

۵۰ دقيقې

- په يوه ورځ کې په ۵ الفباوو باندې کار وکړئ.
  - په دويمه ورځ باندې په ج، ح، خ، د، ذ باندې کار وکړئ.
  - دريمه ورځ په ( ر، ز، س، ش، ص) باندې کار وکړئ.
  - څلورمه ورځ په (ض، ط، ظ، ع، غ) باندې کار وکړئ.
  - پنځمه ورځ په (ف، ق، ک، ل، او م) باندې کار وکړئ.
  - پوره او نيمه توري يا حروف وليکئ.
  - په دوه هغو کلمو باندې فکر وکړي چې په پوره او نيمه تورو يا حروفو باندې پيلېږي. لکه، آس او توره.
  - هغه انځورونه رسم او رنګه کړئ چې هغوی انتخاب کړي دي.
  - همدارنګه د هرې پاڼې په لاندينۍ برخه کې د پاڼې شميره وليکئ.

2

- لاربښود: والدين کولای شي چې د رسم له لارې زده کوونکو سره مرسته وکړي چې هغوی ليکل وکړی شي.

۱۵ دقيقې

عددي پراختيا: (د معلوماتو راټولول او ثبتول):

- د بېلابېلو خوراکي توکو رنګونه او خوراکي توکي په انځوريز خطونو کې رسم کړئ او دا پوښتني و پوښتئ: ستاسو د الفباء په کتاب کې څو داني خوراکي توکي زيړ، څو داني شنه، څو داني سره او داسي نور رنګونه لري؟ شنه رنګ لرونکي توکي: پالک، باميه او داسي نور. زده کوونکي به مجموعه په پای کې وليکي.
- د هغو حيواناتو شمير چې په ځمکه، اوبو کې يا په هوا کې ژوند کوي انځوريز خطونه رسم کړئ او دا پوښتني وکړئ: ستاسو د الفباء کتاب کې څومره حيوانات په اوبو کې، څومره په هوا کې او څومره په ځمکه کې ژوند کوي؟ په ځمکه کې: زمری، سپی؛ په اوبو کې: کب، شارک؛ په هوا کې: کارغه، ميناء او داسي نور. زده کوونکي به مجموعه په پای کې وليکي.
- د هغو خوراکي توکو شمير په انځوريز خطونو کې رسم کړئ چې په ميوو، سابو، لبنياتو او تيار خواړو په قطار کې راځي. د خوراکي توکو کټګورۍ د زده کوونکو د پوهې کچې پورې ځانګړې کيدی شي. څومره خوراکي توکي ستاسو د الفباء په کتاب کې ميوې، سابه، لبنيات يا نور تيار خواړه دي؟ ميوې: ځمکني توتان، انګور؛ سابه: کچالو، ګازرې؛ لبنيات: شيدې، مستې؛ نور تيار خواړه: سنديوچ، مکروني او داسي نور. زده کوونکي به مجموعه په پای کې وليکي.

لاندې بيګې ته وګورئ:

| رنګونه | خوراکي توکي | | | مجموعه |
|---|---|---|---|---|
| شين |  | | | 1 |



EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link: https://forms.gle/pVXs3vQEufuzSShs7

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | 3 |  |  |  | سور | | |
| | 1 | | |  | زير | | |
| | 2 | |  |  | نارنجي | | |
| | 1 | | | | نصواري | | |

EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

<table>
<tr>
<td>
<table>
<tr><td></td><td></td><td></td><td></td><td></td></tr>
</table>
</td>
<td></td>
</tr>
</table>

## شپږمه ورځ

نن به تاسو خپل د الفباء کتاب پای ته ورسوئ او له خپلي کورنۍ سره به يې شريک کړئ!

| وړانديز شوی وخت | فعاليت او توضيحات |
|---|---|
| ۲۰ دقيیقي | • وروستني څلور توري يا حروف چې (ن، و، ه او ي) دي، پوره يې کړئ |
| ۱۰ دقيقي | • د هغوی د الفباء کتاب ته پوښ جوړ يا ډيزاين کړئ<br>- د کتاب په نوم باندې فکر وکړئ – او له هغه څه بايد استازولي وکړي چې کتاب يې په اړه دی. لکه: زما د الفباء کتاب، زما الف ب ت او داسې نور.<br>- ځوانو لوستونکو ته د کتاب پوښ انځور کړئ چې د کتاب په موخې باندې پوه شي.<br>- د کتاب د ليکوال او د انځورګر خپل نومونه پرې وليکئ. |
| ۱۰ دقيقي | • خپل بشپړ شوی کتاب مو له کورنۍ او خويندو او ورونو سره شريک کړئ. |
| ۱۰ دقيقي | • ټولې هغه کلمې چې تاسو زده کړي دي بيان کړئ. |



EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

## د ارزونې معیارونه

- تر څو يو ښه انځور شوی د الفباء کتاب ولرئ، لاندې برخې وګورئ:
- هر توري يا حرف ته ماشومان دوه شيان په نښه کوي چې نومونه يې په همغو تورو باندې پيل شوي وي
- هغه توري يا کلمې چې ماشومان يې ليکي بايد د پوهيدو وړ وي
- انځورول چې پای ته ورسيږي، له نورو سرچينو څخه يې پرې کړئ چې له هغو شيانو څخه استازولي وکړي چې د کتاب په پوښ باندې وي.
- پاڼو ته شميرې ورکړئ
- په سمه توګه انځوريز خطونه رسم کړئ
- کتاب يو پوښ او نوم لري

## اضافي تقويتي فعاليتونه

- زده کوونکي کولای شي ډيرې کټګورۍ ور اضافه کړي. په املاء او د هر توري يا حرف په اضافي کلمو باندې فکر وکړي.

- زده کوونکي کولای شي يوه جمله يا يو څو خطونه وليکي چې هر څه د کتاب واضيح کړي. د بيلګې په توګه: يوه منه سره رنګ لرونکي ميوه ده. دا يوه صحي خوراکي توکی ده چې هره ورځ ترې ګټه پورته کولی شئ. له مخکيني زده کوونکو څخه پوښتلی شئ چې يو صفت يا يو فعل او يا هم يو قيد د جملو ليکلو په وخت کې وکاروي.

- زده کوونکي کولای شي چې د خپل کلي کتابتون جوړ کړي او خپل جوړ شوي کتابونه په خپل کلي کې په کرايه ورکړي.

## د آسانتيا لپاره بدلونونه

- زده کوونکي کولای شي يوازې کلمه هر حرف يا توري ته وليکي
- زده کوونکی کولای شي چې د انځور رسمولو پرځای تصويرونه په پاڼو کې سريښ کړي
- زده کوونکي کولای شي چې د تورو يا حروفو آسانه غږونه پيل کړي او له خپلې ژبې څخه ورته هغه کلمې جوړې يا اضافه کړي چې يو شان غږ ولري او بيا همدغه کار د انګليسي ژبې لپاره تر سره کړي



EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7